الدرس العاشر

النبي ﷺ في المدينة

لسم درس

نبي كريم ﷺ په مدينه کې

کوم ځائی چی د نبی کریم ﷺ اُوښه ناسته وه هغه زمکه ئے واغسته ، او مسجد نبوی ورباندی آباد کړو، رسول الله د مهاجرینو (چی د مکے نه د نبی کریم ﷺ سره راغلی وو) او انصارو(د مدینی خپل اُوسیدونکی مسلمانان چی مهاجرینو له ئے پناه ورکړی وه) ترمینځ رورولی جوړه کړه، د یو انصاری او یو مهاجر رورولی ئے قائمه کړه چی د هغه مال کښې هم شریک وو، پدې طریقے سره مهاجرین او انصار یو ځائی کار شروع کړو ، پدی سره رورولی نوره هم مضبوطه شوه ، د مکے مشرکان او د یهودو د مخکښې نه تعلقات موجود وو، مشرکانو دیهودو په ذریعه مسلمانانو کښې جداء والے راوستلو ، او کوشش ئے کولو، او مشرکانو دهمکیانئ ورکولے چی مونږه مسلمانان ختموو ، مسلمانان د بهرنی دشمن (قریشو) او کور ددننه دشمن (یهود) نه خطره کوله ، حالات دومره سخت شو چی صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین به د ځان سره أسلحه د خوب په حالت کښې سرته ایخودله ، داسی د تکلیف په حالت کښې الله تعالی د جهاد حکم نازل کړو، رسول اللهﷺ د مجاهدینو دستے یو طرف او بل طرف ته لیږل شروع کړل ، چی د دشمن په نقل او حرکت باندی نظر ولری ، ددی سره نبی کریم ﷺ په تجارتی قافلو باندی هم حمله کول شروع کړل ، چی مشرکانو ته د مسلمانانو د طاقت احساس وشی، او کافران هم د پراُمن اوسیدلو خبری ته مجبوره شی، او مسلمانان په آزادئ سره د اسلام دعوت وکړی ، ددی سره نبی کریم ﷺ د بعضو قبائلو سره معاهدی هم کړی وی . **جنګ بدر** : رسول الله ﷺ دا فیصله وکړه چی دشام نه دمشرکانو راتلونکی قافلئ ته لار ونیولے شی، نبی کریم ﷺ د ځان سره دری سوه دیارلس (۳۱۳) صحابه کرام روان کړل ، دوی سره صرف دوه آسونه او اوویا (۷۰) اُوښان وو، د قریشو تجارتی قافله کښې هزار (۱۰۰۰) اُوښان وو چی مشری ئے ابوسفیان کوله ، ورسره صرف څلویښت (٤٠) کسان وو، ابوسفیان ته معلومه شوه چی مسلمانان حمله کوی هغه مکے والا د حالاتو نه خبر کړل ، او د مدد اپیل ئے وکړو، او پخپله بله لار باندی روان شو، او د مسلمانانو د حملے نه ئے ځان بچ کړو، دلته ابو جهل د مکے د قریشو نه زر (۱۰۰۰) جنګیانو سره د جنګ په نیت روان شو ، ابوسفیان استازی ولیږلو چی قافله بچ شوه ، تاسو واپس شئ لیکن ابوجهل د واپسئ نه انکار وکړو او خپل سفر ئے جاري وساتلو ، رسول الله ﷺ ته چی خبر وشو چی مشرکان د جنګ دپاره راروان دی ، د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین سره ئے مشوره وکړه ، اتفاق پدی خبره راغلی چی د مشرکانو سره جنګ وکړی شی ، او مقابله ورسره وکړی شی ، دویم کال د هجرت د رمضان المبارک په اُولسمه ورځ باندی د دواړو لښکرو مقابله وشوله، ډیر سخت جنګ وشو ، بالآخر مسلمانانو ته میدان پاتے شو، او مشرکان وتختیدل څوارلس (١٤) مسلمانان شهیدان شول، او اوویا (۷۰) مشرکان مردار شول، او اوویا (۷۰) قیدیان شول، پدی ورځو کښې رقیه بنت رسول اللهﷺ وفات شوه چه د عثمان بن عفان رضی الله عنه په نکاح کښې وه ، د نبی کریم ﷺ په سفارش عثمان رضی الله عنه مدینه کښې پاتی شوی وو ، جنګ بدر کښې نه وو شریک شوی ، دخپلئ ناروغه بي بي خدمت ئے کولو ، نبی کریم ﷺ دجنګ بدر نه پس د خپلی دویمی لور ام کلثوم رضي الله عنها نکاح د عثمان رضی الله عنه سره وکړه ، ددی وجی نه عثمان رضی الله عنه ته ذو النورین وئیلئ شی چی د رسول اللهﷺ دوه لونړه د هغه په نکاح کښې یوه پس د بلئ نه راغلی وی ، د جنګ نه پس مسلمانان مدینے ته خوشحاله راواپس شول ، د الله مدد میلاو شو ، قیدیان ئے راوستل، مال غنیمت میلاو شو، قیدیانو کښې بعضو نقده فدیه ورکړه او ځان ئے خلاص کړو او د چا فدیه دا مقرر شوه چی دمسلمانانو لس ماشومانو ته به لیکل لوستل ورزده کوی .